مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

د چارلس چاپلین اثر
د عبدالباري جهاني ترجمه:

۲۰۲۰/۰۸/۲۱

# لوی دیکتاتور

لوی دیکتاتور د چارلس چاپلین لومړنی صوتي فیلم دی. چاپلین په دې فیلم کې هم د یوه خوارځواکي ډنګر یهودي سلماني په رول کې دی چې د نازیانو په زندان کې بندي دی او هم د «تومانیا» په نوم یوه خیالي هیواد دیکتاتور دی، چې هینکل نومیږي. چاپلین، په خپله سوانح کې، خپله داخبره را اخلي چې «لازمه نه ده د نازیانو سره د مخالفت لپاره یو سړی حتما یهودي وي. بلکه انسان ته فقط لازمه ده چې عادي او اصلي بشر و اوسي؛ بیا نو ټول سوال حل دی.»
چاپلین او هیټلر د یوې هفتې په فاصله کې زیږېدلي ول. د دې، په جسم کوچني او دربدره انسان او اډولف هیټلر ترمنځ یو ډول عجیب شباهت موجود وو. دې دواړو کسانو د بشریت د مخالفو قطبونو نمایندګي کوله. د چاپلین سوانح لیکونکی ډېوېډ روبینسن د ۱۹۳۹ کال د اپریل پر یوویشتمه ولیکل چې«اسمان، پنځوس کاله پخوا، یو ډول د ټوکو په موډ کې وو چې امر یې وکړ چې چاپلین او هیټلر دې له یوه بل څخه د څلورو ورځو په فاصله کې دنیا ته راسي. دوی دواړو، هر یوه، په خپل وار د هغو میلیونونو انسانانو، چې د ټولنې د ټیټ او پورته سرمنزل تر منځ را ګیرديي، ارمانونه، احساسات او امیدونه، پر خپل طرز، بیان کړل. دوی دواړو، هر یوه، د عصري نړۍ د بې وسه انسان مشکل بیان کړ. هر یوه په خپله هینداره کې ورته وکتل. یوه د نېکۍ له اړخه او هغه بل د بې مثاله شر له اړخه.»
چاپلین، د خپل فیلم د پای لپاره، پر هغه وینا باندې، چې د یوه سلماني خبري دي، او خلک یې د هینکل دیکتاتور له خولې اوري، ځو میاشتې کار وکړ. دا وینا یې ځو ځله یې ولیکله او بیرته یې څیرې کړه. ډېرو خلکو پر دغه وینا باندې انتقاد وکړ. ډېرو خلکو هغه د یوه وینښ او پاک وجدان آواز وباله. په خواشینی سره باید ووایو چې د چاپلین هغه وینا، لکه څرنګه چې د ۱۹۴۰ کال شرایط یې بیان کړي دي، د نني ورځې له شرایطو سره برابره ده.

## د لوی دیکتاتور وروستی وینا:

زه متأسف یم، مګر زه نه غواړم چې یو دیکتاتور و اوسم. دا زما کار نه دی. زه نه غواړم چې یا فتوحات وکړم او یا پر چا حکومت وکړم. زه غواړم چې، که ممکنه وي، له هر چا سره مرسته وکړم. له یهود، عیسوي، تور، سپین او له هر چا سره. موږ ټول غواړو چې له یوه بل سره مرسته وکړو. د بشر په خټه کې دا خصلت اغړل سوی دی. زموږ آرزو دا ده چې د یوه بل په خوښۍ ژوند وکړو. نه د یوه بل په بدمرغۍ. موږ نه غواړو چې له یوه بل څخه نفرت وکړو او یا یوه بل ته په سپکه سترګه وګورو. په دې نړۍ کې د هرچا لپاره ځای سته. دا ښکلې مځکه دومره غني ده چې هر چا ته یو څه ورکولای سي. موږ کولای سو چې دې ژوند ته هم د آزادی نعمت ورکړو او هم یې ښکلی کړو، مګر موږ لاره ورکه کړې ده.
حرص د انسانانو زړونه له زهرو ډک کړي دي؛ او نړۍ یې د نفرت په مورچلونو سره بېله کړې ده؛ او حماقت د بدمرغۍ او وینو تویولو سبب سوی دی. موږ سرعت ته انکشاف ورکړی دی مګر ځانونه مو په یوه کوچنۍ خونه کې بندیان کړي دي. ماشین او صنعت، چې د پریمانۍ سبب کیږي، موږ نېستمن کړي یو. زموږ پوهې او علم موږ یوه بل ته بدبین او دښمن کړي یو. زموږ هوښیاری زموږ زړونه سخت کړي او زموږ څخه یې ظالمان جوړ کړي دي. موږ فکر بیخي ډېر کوو او احساس بیخي لږ کوو. موږ تر ماشین او صنعت انسانیت ته زیاته اړتیا لرو. موږ تر هوښیاری، و مهربانی او نرمو زړونو ته زیات ضرورت لرو. پرته له دې به ژوند ټوله تشدد او دښمني وي او هر څه به مو بایللي وي.
الوتکو او ریډیو موږ یوه بل ته نیژدې کړي یو. د دغو شیانو د اختراع کېدلو ماهیت پخپله په انسان کې د نېکۍ د ایجادولو غوښتنه کوي. دا پخپله د نړۍ والي وروړګلوی چیغه کوي؛ او زموږ د ټولو د یو کېدلو غوښتنه کوي. حتی همدا اوس زما ږغ د نړۍ په میلیونونو انسانانو ته رسیږي. په میلیونونو غمجنو وګړو، ښځو او وړو ماشومانو ته رسیږي. د هغه سستم قربانیانو ته رسیږي چې انسان دې ته اړباسي چې بېګناه خلک بندیان او شکنجه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغوی ته، چي زما ړغ اوري، زه وایم چي مه نا امیده کېږی. هغه بدمرغي چي پر موږ یي سیوری خپور کړی دی د هغو انسانانو د حرص او بدنیتی یوه هښمه ده چي د انسانانو له پرمختګ څخه په وېره کي دي او دا هښمه تېرېدونکي ده. د انسانانو د نفرت دوره به تېره سي او دیکتاتوران به مړه سي؛ او هغه قدرت چي دوی له خلکو څخه غصب کړی دی بیرته به د خلکو لاس ته ولوېږي. انسانان به مري خو آزادي مرګ نه لري.

عسکرو! هغو ځناور صفتو انسانانو ته مه تسلیمېږی چي تاسي ته په سپکه ګوري، چي ستاسي څخه غلامان جوړوي، هغوی ستاسي ژوند ته د عسکري کنډک په څېر امر کوي چي څه وکړی- څه ډول فکر وکړی او څه ډول احساس وکړی. هغوی چي په تاسي عسکري تمرینات او تعلیم کوي او ستاسي د خوراک طرز او اندازه کنټرولوی هغوی ستاسي سره د څارویو په څېر سلوک کوي او ستاسي څخه د توپونو د باروتو کار اخلي. ځانونه دې انسانانو ته، چي د انساني فطرت مخالف حرکت کوي، مه تسلیموی. دا ماشیني انسانان دي، مغزونه یي ماشیني دي او زړونه یي ماشیني دي. تاسي ماشینونه نه یاست! تاسي څاروي نه یاست! تاسي انسانان یاست! تاسي په زړونو کي له انسان سره مینه لرئ! تاسي له چا څخه نفرت نه کوئ! تاسي باید له نفرت څخه نفرت ولری او له هغو کسانو څخه نفرت ولری چي هغوی د انساني فطرت په خلاف حرکت کوي. عسکرو! د غلامۍ لپاره مه جنګېږئ! د آزادئ لپاره وجنګېږئ!

د سېنټ لوک په اووه لسم فصل کي لیکلي دي: « د خدای پاچهي د انسان په زړه کي ده» نه د یوه سړي، نه د یوې ډلي بلکه د ټولو انسانانو! او په تاسي کي! تاسي انسانان د ماشینونو د ایجادولو قدرت لرئ. تاسي د خوښئ او نېکمرغی د ایجادولو قدرت لرئ! تاسي انسانان کولای سئ چي خلکو ته آزادي وبخښئ او ژوند ښکلی کړئ؛ او له دې ژوند څخه د ښکلا او خوشبختی داستان جوړ کړئ.

نو د ډیموکراسئ په نوم- راسئ چي له دې قدرت څخه ګټه واخلو- راسئ چي ټول سره متحد سو- راسئ چي ټول د یوې نړۍ د جوړولو لپاره وجنګېږو. یوه داسي نړۍ چي غل او غشه او صفا نړۍ جوړه کړو چي انسانانو ته د کار کولو فرصت ورکوي. داسي یوه نړۍ چي ځوانانو ته راتلونکی او بوډاګانو ته مصوونیت ورکوي. ځناورو له خلکو سره دغه وعدې کړي او د دغو ژمنو په وسیله قدرت ته رسېدلي دي. مګر دوی دروغ وایي! دوی نه دا ژمني پوره کړي او نه به یي پوره کړي!

دیکتاتوران خپلو ځانونو ته آزادي اخلي مګر نورو انسانانو ته د غلامۍ کړئ په غاړو کي اچوي! اوس یي وخت دی چي د دغو ژمنو د بشپړولو لپاره وجنګېږو! راسئ د نړۍ د آزادولولپاره وجنګېږو. راځئ چي د ملتونو ترمنځ سرحدونه له منځه یوسو. د حرص، نفرت او دښمنی کمبله ټوله کړو. راځئ چي د عقل او منطق د نړۍ لپاره وجنګېږو. دهغي نړۍ لپاره چي علم او تخنیک د انسانانو د خوشبختی سبب کیږي. عسکرو! راځئ چي د ډیموکراسئ په نوم ټول سره یو موټی سو!

پایان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ